**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ۲۰** **نېټه: ۱۱ / ۲ / ۱۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

**وبعد:** په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټه چې له ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره برابره ده، د سترې محکمې د رئیس محترم الشیخ عبدالحکیم "الحقاني" صاحب په مشرۍ او د سترې محکمې د عالي شورى محترمو غړو، د مرکزي دیوانونو محترمو رئیسانو، او د مرکزي قضایي ریاستونو د رئیسانو په ګډون د سترې محکمې د عالي شورا جلسه دایره شوه او د ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق نېټې د (۳) ګڼه تصویب په ترڅ کې د بعضې موضوعاتو په تړاو پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت له عالي محترم مقام سره شریک کړل شي. پر همدې بنسټ، د یادې جلسې موضوعات د اسلامي امارت محترم عالي مقام سره شریک کړل شول چې نهمه موضوع یې په لاندې ډول وه:

((د قضاتو د لومړني تقرر وروسته، که د افغانستان اسلامي امارت د عالي محترم مقام له لوري سترې محکمې ته د قضایي کارمندانو د عزل او ګومارنې صلاحیت ورکړل شي، د قضیو له التواء څخه به تر یوه حده مخنیوی وشي.))

د اسلامي امارت عالي محترم مقام د نهمې ګڼه فیصلې په اړه لاندې هدایت وکړ: ((د افغانستان اسلامي امارت د ابتدائیه محکمو په قضایي بستونو کې د لومړني تقرر وروسته، په ابتدائیه محکمو کې د قضاتو د عزل، ګومارنې او تبدیلۍ صلاحیت، د مصلحت له مخې، تر یوه کال پورې د سترې محکمې محترم مقام ته تفویض شو.

ستره محکمه باید په ابتدائیه محکمو کې د قضاتو د عزل، ګومارنې او تبدیلۍ لستونه د معلوماتو په موخه د افغانستان اسلامي امارت عالي محترم مقام ته وړاندې کړي.))

بناءً، د پورته یاد شوي مجلس د نهمې موضوع په تړاو د افغانستان اسلامي امارت د عالي محترم مقام فیصله د دې متحدالمآل په ذریعه د اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته د معلوماتو په غرض واستول شوه.

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.